د سر خواته د پورتني تالو سره برابر
اداء کيږي .

۳- د جيم ، شين او يا مخرج :

د ژبې منځ چې د پورتني تالو سره
برابر وي اداء کيږي .

۴- د ضاد مخرج :

د ژبې اړخ ښي خوا يا چپ خواته چې
د اضراس ډغا ښونو سره برابر وي اداء
کيږي .

۵- د لام مخرج :

د لام مخرج د ژبې اړخ دی

د ضاد د مخرج له آخر څخه د ژبې تر سره پورې .

٦ - د نون مخرج :

د لام مخرج ته نژدې د ژبې اوله خواچې د پورتنۍ ر باعیاتو دبیخ سره برابرۀ وي اداکیږي .

٧ - د راء مخرج :

د ژبې اوله برخه د نون مخرج سره نژدې د پورتنۍ ثنایا اور باعیاتو تر منځ برابر اداء کیږي .

۸ ـ د ط ، د ال او ت مخرج :

د ژبې څوکه چې د پورتنیو ثنایا و د بیخ سره و لګیږي اداء کیږي .

۹ ـ د ظ ، ذ ال او ث مخرج :

د ژبې څوکه چې د پورتنۍ ثنایا و څوکو سره و لګیږي د نومورو دوو مخرج دی

۱۰ ـ د س ین ، ص اد او ز مخرج :

د ژبې څوکه چې د ښکتنیو ثنایاؤ د پورتنۍ برخې سره و لګیږي .

د شونډو ټوری

شونډې د ځلورو ټورو مخرج دی.

۱- د فاء مخرج:

دلاندنۍ شونډې منځنۍ برخه چې د پورتنۍ ثنایا وودځو کوسره ولګیږي.

۲- د واو مخرج:

د شونډو مینځ، خو په خلاصیدو د دواړو شونډو سره ادا کیږي.

۳- د باء اومیم مخرج :

د شونډو مینځ، خو ددواړو شونډو په یوځای کېدو سره اداکیږي .

دحروفوصفتونه

دحروفوصفتونه په لاندې دوو سره دي .

۱- جهر : یعني په زوره لوستل .

۲- همس : یعني په نرمۍ سره لوستل. چې دجهر ضد وي . او حروف یې لس

دي چې مجموعه يې (فَحَثَّهُ، شَخْصٌ، سَكَتْ) دي

ددې نه غير نور ټول حروف مجهوره

دي .

۳ - شديده حروف :

هغه حروف دي چې د سكون په وخت

كښې پرې آواز بند يږي او حروف

يې اته دي .

چې مجموعه يې (اَجَدِ، قَطْ ، بَكَتْ)

دي

۴- متوسط حروف:

يعنې د شدت او رخوه ترمنځ اداء كيږي.

او حروف يې پنځه دي .

چې مجموعه (لِنْ عُمَرَ) دی،په دې حروفو کښې آواز بلکل نه بندیږي.

۵- رخوه حروف :

هغه حروف دي چې آواز پرې جاري وي . د شديده او متوسطه حروفونه غير نور ټول حروف رخوه دي .

٦- مستعليه حروف :

هغه حروف دي چې د اداء کولو په وخت کښې يې دشر يې اکثره برخې ټالو

طرف ته پورته کيږي .

چې مجموعهٔ يې (خُصَّ ضَغْطٍ، قِظْ) دی.

۷- مستفله حروف :

هغه حروف دي چې د اداءکولو په وخت کښې يې د شربې اکثره حصه تالو طرف ته نه پورته کيږي . دمستعلي لهحروفونه غير نور ټول حروف مستفله دي

۸ - مطبقه حروف:

هغه حروف دي چې د اداءکولوپه

وخت کښې يې د ژ پې اکثره حصه تالو سره نښلي چې مجموعه يې (صَطْظَغَضْ) دی .

۹- منفتحه حروف :

هغه حروف دي چې د اداء کولو په وخت کښې يې ژبه د تالو سره نه نښلي. د مطبقه حروفونه غير نور ټول حروف منفتحه دي

نوټ :

پورتنی صفتونه چې مخکښې ذکر شول

سره متضاد دي. يعني د جهر ضد همس ،
د رخوه ضد شدت ، د استعلا ضد استفال ،
د اطباق ضد انفتاح دی.

نو د دې وجهې نه به هر حرف په
څلورو صفاتو سره ضرور متصف وي
د باقي صفاتو ضد نشته.

۱۰- قلقله

په لغت کښې ټکان او جنبش ته وايي
او په اصطلاح کښې په خپل مخرج کښې
د حرف ټکان ورکولو ته قلقله وائي.

د تجوید د علم تعریف

تجوید په لغت کښې کره کولو اوښه جوړولو
ته وائي . او په اصطلاح کښې هغه علم ته
وایي چې په هغه کښې د حروفو
د مخارجو او صفاتو او د هغو قواعدو چې
د هغوي په مراعات سره قرآن کریم په
صحیح توګه لوستل کیږي بحث کیږي .

د تجوید د علم موضوع

حروف هجا او هغه قواعد دي چې
د قرآن کریم تلاوت پرې صحیح کیږي

د افغانستان د تعلیمی مرکز د نصاب اهداف

عمومي هدف:

د ټولو جهادی تنظیمونو د تعلیمی نصاب توحید، دیو متوازن او جامع اسلامي بنسټ ورکول چې د هرډول باطل پرستۍ او بدعتونو ضد وي. همداسې ځکه د اسلامی کلی قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي.

خصوصی هدف:

د اسې نصاب دی چې د اسلام سپاهیان او د حقیقت لارې تلونکوته دیو والي او وحدانیت لارښوونه کوي تر څو چې دوي په مستحکم او دایمي توګه د عالي او معقولو اسلامی سنتو او قوانینو متمسک وي.

د نصاب د اسلامي بنسټونو اوسواد ((د جهادي، فرهنګي، فلسفي، اقتصادی تخنیکي مدني، معیشتي شرایطو په نظرکې نیولو سره)) ډیزاین دی. چې په عین وخت کې د نه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامی مقدسوحقایقو مبین وي.

آخري هدف.

د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت بنسټول نړیوالوته د کفر او کمونیزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدی (ص) غږ شریعت د حنفي فقه په اساس خاص د خدای (ج) د رضا د حاصلیدلو په نیت د زمانې د طاغوطیانو سره مبارزه د دې تعلیمي نصاب آخري مرام دی.

ARIC
B
6.421
TUA
1122 v.12

شپږمه طبع

د چاپ کال سنبله ۱۳٦۸ د چاپ شمیر (۱۰۰۰۰)

د تعلیمی مرکز د نصاب مدیریت

اوتول حرفونه يې دادي (قُطْبُ، جَدٍ)
قلقله په دوه قسمه ده .

الف ورځ قلقله :

کله چې يو د دې حروفونه په منځ
د کلمې کښې ساکن وي نو ورځ قلقله
کيږي .

ب - لويه قلقله :

کله چې په آخر د کلمې کښې يو د دې
حروفونه څخه ساکن وي لويه قلقله
کيږي .

د تجوید د علم غرض

په صحیح او واقعي توګه د قرآن کریم لوستل چې د خدای (ج) رضا سبب وګرځي.

دهجا حروف او مخرجونه یې

د عربي ژبې ټول توري (۲۹) دي څرنګه چې قرآن کریم په عربي ژبه نازل شوی دی نو د قرآن کریم د صحیح لوستلو د پاره دا یو ضروري امر دی چې د ټولو حروفو مخرجونه وپیژندل شي او هر حرف په خپل مخرج کښې اداء شي.

مخرج: په لغت کښې دو ټلوځای او د تجوید

د علم په اصطلاح مخرج هغه ځای ته
ویل کیږي چې د تلفظ په وخت کښې له هغه
ځای څخه حرف (توری) راوځي او ادا کیږي .

د حرف د مخرج پیژندلو طریقه

که څوک وغواړي چې د کوم حرف مخرج معلوم
کړي نو زور لرونکې همزه دې په هغه حرف
چې ساکن وي داخله کړي . نو د هغه حرف
مخرج په سنکاره توګه معلومیږي مثلاً په بأ ساکنه
همزهٔ مفتوحه داخله کړئ . نو (اَبْ) تلفظ
کیږي

او د بامخرج تري څرګندیږي. او همدارنګه
د نورو حروفو مخرجونه .

څرنګه چې دا کټوتورواداګول غابنونو
پورې اړه لري نولانړه ده چې لومړی دغابنو-
نو په باره کښې یوڅه بیان وشي .

غابنونه : په څلورو برخو ویشل شوي دي
۱- ثنایا - ۲ رباعي ۳- انیاب ۴- اضراس

۱- ثنایا : څلور مخامخ غابنونه دي .
چې د وه یې پاس او دوه یې لاندې دي
چې پاسوته ثنایاۍ علیا (پورتنۍ ثنایا) او

لاندنیوته ثنایای سفلیٰ (لاندنی ثنایا)
وائي .

۲ - رباعی : هغه څلور غاښونه دي چې
دوه يې په پورتنۍ ژامه او دوه يې په
ښکتنۍ ژامه کښې د ثنایا غاښونو په ښي اوچپ
طرف کې واقع دي .

۳ - انیاب : څلور غاښونه دي چې دوه
يې پورته او دوه يې لاندې د رباعي
غاښونو په دواړو خواووکښې واقع دي

۴ - اضراس : په درې ډوله دي

۱ - ضواحک : هغه څلور غاښونه دي چې د انیابو په دواړو خواؤ کښې په پورتنۍ او ښکتنۍ ژامو کښې واقع دي

۲ - طواحن : هغو غاښونوته وائي چې د ضواحکو په دواړو خواوکښې په ښکتنۍ او پورتنۍ ژامو کښې واقع دي او ټول طواحن دولس دي .

۳ - نواجذ : هغو څلورو غاښونو ته ویل کیږي چې د طواحنو په دواړو خواوکښې په پورتنۍ او ښکتنۍ ژامو کښې

واقع دي .

په پورتنۍ اساس د ټولو غاښونو شمېر (۳۲) ته رسيږي ، ليکن ځينې خلک نوا جذ غاښونه نلري .

د حروفو مخرجونه

د حروفو مخرجونه په دې برخو ويشل شوي دي .

۱ - حلق

۲ - ژبه

۳ - شونډې

د حلق توری

شپږ توري په حلق کښې ادا کيږي.

۱-ء ۲-ه ۳-ع ۴-ح ۵-غ ۶-خ.

همزه او ها د حلق په آخرنۍ برخه کښې ادا کيږي.

عين او حاء د حلق په منځنۍ برخه کښې ادا کيږي.

غين او خا د خولې له خوا د حلق په لومړۍ برخه کښې ادا کيږي.

دژبې توري

د ژبې توري (۱۸) دي اوخرجونه

يې په لاندې ډول سره واضح کيږي

۱- د قاف مخرج:

د ژبې په آخرنۍ برخه کښې

چې پورتنۍ تالوسره برابروي

ادا کيږي.

۲- د کاف مخرج:

لږ څه د قاف د مخرج نه پورته د ژبې

په لیاره کې به هیڅ ډول قدرت زمونږ د مقدسې اوتپینکې هیلې مخکې خنډ کېدلای نشي. د بې هدفه کمونیزم ټول وحشیانه او غیرانسانی کړنې، لکه عامه وژنه، ژوندي ښخول، چور او چپاول، دکور-ونو او دکرهنې محصولات په اور کې سیزل د شریعتو او مقدسو مساجدو اومتبرکو اماکنو ویجاړول، د زهرلرونکو کاڼو استعمال، دروغجن او مسموم پروپاګنډ زمونږ په کرانو هیواد افغانستان کې فقط اوفقط زمونږ د تصمیم نیولو د کړنلارې کلکنا کلکه تر اخیر د هرسیک علت دی او بس.

د افغانستان مسلمان ملت چې د حبل المتین متمسکین او د آسمانې ارشاداتو ممثلین دي د دوي د قهر او نفرت سیلاب ثبات نده شو او د پاک خدای ﷻ د وینا سره سم چې یې ویلي (وجاهدوا في الله حق جهاده ۷۸ آیهٔ د حج سورې) یعنې جهاد وکړي د خدای ﷻ په لارکې د خدای ﷻ حق جهاد.

نو ځکه د اسلام د عالي تعالیمو د ارشاداتو په رڼا کې حق جهاد ته ادامه ورکوو تر څو چې د اسلامي پوهې بله پیوه دعلمي او مسلحانه جهاد په درشل کې تقویت کړو.

کرانو شاګردانو! څرنګه چې تاسو ته څرګنده ده، چې د اسلام د عرفان زده کوونکو دوو پولو درسي کتابونو څخه یعنې پخوانیو اتحاد و پورې مربوط وو استفاده کوله. د جهادي تنظیمونو محترمو رهبرانو د زده کوونکو دافکارو د تشتت د مخنیوي په منظور په دې وروستیو کې دخپلې روزنې اوښوونې مسؤلینو ته هدایت ورکړو چې د ټولو مضامینو او علومو کوم چې په تعلیمي نصاب کې دي یو ډول کتابونه چاپ او د مجاهدینو او مهاجرینو د زامنو د استفادې د پاره یې برابرکړي چې د محتوی او مفهوم له نظره د اسلام د مقدس دین محمدی (ص) غږا

شریعت او دحنفي مذهب ضامن اوساتلو وی وي . او دمجاهدینو اومسلمانو مهاجرینو تولو اقشارو د تائید وړ وي .

نوپه دې اساس دښوونې اوروزنې دهم آهنګ عالي شورىٰ چې د ټولو محترمو رهبرانو څخه تائید له مخې تاسیس شوه . دښوونې اوروزنې هم آهنګ عالي شورىٰ دافغانستان د تعلیمي مرکز اداره تاسیس کړه . نومورې مرکز په څو اهمو شعبو تولګه : د تعلیمي نصاب مدیریت ، د نظارت او تدریس مدیریت د پلان او خارجي ارتباط مدیریت ، د اجرائیې مدیریت ، مالي مدیریت ، دښوونې اوروزنې مدیریت ، د سواد او زده کړې مدیریت شامل دي .

ددې مرکز منسوبین د ټولو تنظیمونو د ښوونې اوروزنې متخصصین او مجرب اشخاص دي چې ټول غړي يې په مجدانه او متحدانه ډول سره د اسلامي ښوونې اوروزنې د تحکیم او تعلیمي نصاب د توحید د پاڼې کار کوي .

پس له مخته اومشورې نه د تعلیمي نصاب متخصصین د درسي مضامینو د کتابونو د تهیې په باب کې دې نتیجې ته ورسیدل چې د جهادي سختو شرایطو او د کافي وخت د نه موندلو له امله اوس اوس د دوو پخوانیو اتحادو نو درسي کتابونه سره پرتله کړې او هغه عناوین او مضامین چې د زمانې د مشکلاتو په نظر کې نیولو سره د اسلام او جهاد کتند وی او تاکل .

نوځکه د تعلیمي نصاب مدیریت ویاړي چې هسې وخت او بخت يې پیدا کړ تر څو چې د دواړو جهادي اتحاد ونو درسي مضامینو مختلف کتابونه چې د مختلفو نصابونو له خوا طبع شوي وو سره پرتله کړي او هغه مطالب اوعناوین يې وتاکي چې د اسلام مقدس دین د ښوونې اوروزنې له نقطه نظره د زده کړې وړ او د زده کوونکو د پوهې د سطحې سره سمون لري او د جهادي شرایطو سره موافق وي انتخاب او چاپ کړي .

ومن الله التوفیق .



د افغانستان د مجاهدینو اسلامی اتحاد

دافغانستان تعلیمی مرکز

دنصاب مدیریت

تجوید

د څلورم ټولګی لپاره

تجوید

د څلورم ټولګی لپاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا

قَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلے دی.

رَضِيْتُ

خوښ یم

بِاللّٰهِ رَبًّا

چې الله مورب دی.

وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا وَرَسُوْلًا

اومحمد صلی اللہ علیہ وسلم مو رسول او نبی دی.

لا إله إلا الله محمد رسول الله

الحمد لله رب العلمين والصلوٰة والسلام علىٰ نبيه الامي الامين

بسم الله الرحمٰن الرحيم .

يرفع الله الذين آمنوا منكم والذين اوتوا العلم درجات ۝

ترجمه : خداى جل جلاله لوړوي دايمالرونكو درجې له تاسونه او له هغو كسانو نه چې پوهه يې ورپه برخه كړيده .

دآيهٔ كريمې څخه استنباط كېږي چې هيڅ دول حسنه عمل څرګند او بارز كيفيات تر پوهې وجود نه لري .

د اسلام په مقدس دين كې د پوهې او علم اهميت تردې اندازې لوړ دى چې آسماني وحي د « اقراء باسم ربك الذى خلق » په مبارك آيت شروع شوى ده .

نو پدې اساس د روحي پالنې موضوع او د اسلامي تفكر روزنه، اقتصاد، سياست ، عبادات ، اخلاقيات، وبشري حقوق د قرآني بنوونې او روزنې په تړخ كې د اسې وجيبه ده چې د ټولو وجايبو او مسايلو په درشل او تړخ كې تر ټولونه په لومړي قطار كې موقعيت لري

مونږ د وحدانيت دلارې لارې ټلونكي د هجرت په دېرونا ورو او سختو شرايطو كې د اسلامي بنوونې امكانات د خداى جل جلاله په لطف د اسې برابر كړه چې د رب الارباب د رضا د حصول